مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۱۹/۱۰/۰۶

# یو کال، یو شعر

## (موري مننه چې ویده دې کړمه!)



بېګاه مې خوب لیده ماشوم یمه او مور غواړمه

ږلۍ باران، لار رانه ورکه وه او کور غواړمه

بېګاه په خوب کې وم جګ شوی

روان شوی وم په بله باندې

سر مې په وره و لګېدلی، هېڅ پوه شوی نه وم

بیا مې مور، مور ویلي وو

چا څملولی وم، ښه دروند ویده وم

سهار چې ویښ شوم

تر برستنې لاندې ورو مې ووې:

موري مننه چې ویده دې کړمه!

چا غږ ونه کړ

چې کتل مې نه وه

په بیره پوه شوم چې ماشوم نه یم او مور هم نشته

مور ډېره، ډېره لرې، لرې رانه تللې وه نور

۲۰۱۸/۱۱/۲۰
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ